مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند ۲۰۲۱/۰۲/۲۵

# د استاد رڼاګل اریوبزي علمي فرهنګي هڅې

## او د کوچنیانو ادبیاتو ته یې پاملرنه

### دویمه برخه



**په دې مقاله کې به د استاد رڼاګل اریوبزي بیوګرافۍ تر څنګ، لومړی د ده پر علمي شخصیت او په هېواد کې دننه او تر هېواد د باندې د ده پر ترسره کړو علمي فرهنګي کارونو رڼا واچول شي او بیا به په ځانګړي ډول د ده پر هغو هڅو وغږېږم چې ده د کوچنیانو ادبیاتو په برخه کې ترسره کړي دي.**

زما د دې مقالې تر لیکلو مخکې هم ښايي د اریوبزي صاحب پر علمي شخصیت، ځانګړنو او لیکوالۍ باندې لیکنې شوې وي، چې زما له نظره دومره نه دي تېرې شوې؛ خو یوازې یوه لیکنه مې د دوه زره څوارلسم کال په جولای میاشت کې د ښاغلي ډاکتر رحمت ربي ځیرکیار په قلم له نظره تېره شوې وه چې هماغه وخت مې کاپي او له ځان سره د دې له پاره وساتله چې ډېره هیله مې درلودله چې د استاد اریوبزي د ژوند له حالاتو خبر شم او په همدې هیله مې د خپل ارشیف په یو ګڼډه کې خوندي کړه چې زه به یوه ورځ له دې لیکنې څخه د یو مأخذ په ډول استفاده کوم.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د دي مقالې سرلیک «استاد اریوب زی د خیرالبیان په سبک» دی او لیکوال یې ښاغلی ډاکتر رحمت ربی ځیرکیار دی او مقاله د دوه زره څوارلسم کال د جولای پر شپږویشتمه نېټه په ټول افغان ویبپاڼه کې خپره شوې ده.

د ښاغلي ځیرکیار همدا مقاله کټ مټ پکتیکا یو دات کام (https://www.paktika1.com/) کې هم را اخستل شوې ده.

د پاس یاده مقاله کې، د ځیرکیار صاحب یوه عالمانه مقدمه، د غني خان او الفت صاحب په باب د استاد رڼاګل دوې لیکنې راخستل شوې دي. زه به لومړی د ځیرکیار صاحب ادا مقدمه راواخلم:

«زه او استاد رڼا ګل اریوب زی یوبل د ۱۹۶۰کلونو له نیمایي راهیسې پیژنو. دا هغه مهال و چې موږ دواړه د هغه مهال په لویدیز جرمني کې د فرانکفورت\ماین د ښار په ګویټې پوهنتون کې په تحصیل بوخت وو. زموږ دواړو دوستي په کابل پوهنتون کې د استادانو په څیر هم روانه وه. په ۲۰۱۳ کې مو په فرانکفورت\ماین ښار کې بیا یو بل ومیندل او پخوانۍ او اوسنۍ خوالې مو ډانډس کړې. زه له پخوا را هیسې رڼاګل اریوب زی د یوه خبرلوڅ او تکړه لیکوال په حیث پیژنم.

ما ورته وړاندیز وکړ چې که کله ناکله لیکنې خپرې کړي. خو د کډوالۍ په ژوند کې یې... د لیکلو حوصله او وخت یې نه لرل. زه ډیر خوښ شوم چې د ده په قربانۍ او لاربنودنې سره، اولادونو یې لوړې علمي درجې لاسته راوړې دي.

سږ کال یې د شلمې پیړۍ د دوه فیلسوف پښتون شاعرانو د مفکورو تل ته کوز کړم. د لیکلو سبک ته یې ما خیرالبیان ویلی دی. ده د باچاخان د مشر ځوی غني خان او ګل پاچا الفت شعر ته ژورې کتنې کړې دي. د اریوب زي تخصص په ښوونه او روزنه کې دی، خو هغه څه چې ده د غني خان او استاد الفت په شعر کې راسپړلي دي، ما بل چیرې نه دي لوستلي.ما چې دغه وتلې بدیرې ولوستلې، استاد رڼا ګل اریوب زي ته مې ولیکل چې ګوندې کمپیوټر به یې لیونی شوی وي او په خپل سر به یې څه لیکلي وي! ګوندې استاد اریوب زی موږ د خوشحال بابا، رحمن بابا او استاد امیر حمزه شینواري د فلسفي په څیرنه هم د خیرالبیان په سبک و نازوي.

ځیرکیار

۲۵ جولای۲۰۱۴

کلیفورنیا»

تر دې لنډې مقدمې وروسته د استاد رڼاګل دوې لیکنې راغلې دي:

۱ ــ د غني خان رنګینه ځواني او د زړونو خاني،

۲ ــ د ازادۍ او غلامۍ معنی د الفت په شعرونو کې،

استاد رڼا ګل چې د غني خان په باب څه لیکلي دي: په ریښتیا چې ځینې برخې یې د خیرالبیان سبک ته یو څه ورته والی لري. خو ټوله مقاله کې د خیرالبیان سجعې نه، بلکې نورې سجعې هم په کې کارول شوې دي.

د پښتنو لوی مفکر او مبارز بایزید پیرروښان په اثارو کې یو هم خیرالبیان دی.، خیرالبیان په مسجع نثر لیکل شوی دی. ویل کېږي چې خیرالبیان د قرآن شریف د الرحمن د سورې په پیروی سره لیکل شوی دی. د سورۀ رحمن هره جمله د «اَن» او «اَم» په سجع پایته رسیږي او د خیرالبیان د هرې جملې په پای کې هم د «اَن» او «اَم» سجعه راوړل شوې ده؛ استاد رڼا ګل هم د غني خان په باب په لیکلې مقاله کې له همدې سبک نه کار اخیستی دی، خو دا پوښتنه رامنځته کېږي چې د پیرروښان د مسجع نثر کړی او پوښتې خوشحالخان د دستارنامې په توره ماتې کړې؛ چې اوس استاد رڼاګل ته څه فکر پیدا شوی دی چې د پیرروښان پر پله روان شوی او د غني او الفت د ارواحو پر مزار یې د همدې سبک په قالب کې، د مینې ترانې غږولې دي.

رڼا ګل په دې مقاله کې په هنرمندانه ډول د غني خان مینه او سیاست سپړلی دی او ډېر ځلې یې د غني خان له خپلو الفاظو نه استفاده کړې ده، خو د رڼا ګل هنر په دې کې دی چې داالفاظ یې د غني له پلوشو او فکرونو نه داسې را انتخاب کړي او په داسې ځایونو کې یې کارولي دي لکه د تاج محل معمار چې په ماڼۍ کې یې تیږې او خښتې په داسې ټاکلو ځایونو کې کارولې دي چې له تاج محل نه یې د نړۍ یوه عجوبه جوړه کړې ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د استاد رڼا ګل په دې لیکنه باندې هغه څوک پوهېږي چې غني خان، د غني خان سیاسي لیډلوری، د غني بغاوت او د وخت او زمان او د دې په مقابل کې تر مرګه پورې د غني خان دريځ ورته مالومه وي.

رڼا ګل د غني له الفاظو نه خښتې او ډبرې جوړې کړې دي او بیا یې له هغو نه ښېرته د غني د مېنې او فکر مجسمه جوړه کړې ده، دا یې یوه لنډه بېلګه ده:

«غنی خان د ځوانی په رنګین خیال کی د سند د سپینو شګو ځانته جوړ کړ یو محل چی «دا ټـول خـرګـی جهان ورته حیران حیران کتل.»

هسکی مناری، جګ جګ دیوالونه، شنه شنه چمنونه او باغونه، رنګ په رنګ ګلونه د نرګس و د رامیل او د مرسل، مالیار یی کړ بلبل.

یوه ښکلی معماری ده، د ار مان یوه نقاشی ده، بس د خیال فکر سیا لی ده. هنرونه، فلسفی او ارمانونه، دا هر څه پریمان دی، پکښی مینه شهزادګی ده، دا نور ټول یی نوکران دی.

د خیا ل په دی محفل کی نه شیران شته نه پړانګان، نه ګیدړی نه لیوان، نه جنګ جنګسالا ران او نه کونډی یتیمان. بس زرکی دی تنځری، شنی سپینی کوتری، شنه طوطیان، توری بلبلی، خوږی خوږی نغمی دی په زړه پوری سندری. یو سوز دی یو ساز دی، هم ناز دی هم راز دی، یو محفل د وصال دی د مجنون د لیلی، د فرهاد شیرینی، د ادم د رباب ترنګ دی، د درخو دبنګړو شرنګ دی. غنی یی په منځ کی ناست دی، نه سر دار دی، نه آغا او نه بادار دی، یو د غم تاج یی پر سر دی، په مینه کی سرشار دی، بس د زړونو خریدار دی او په هر زړه کی مکان دی، دغه خان د زړونو خان دی...

بل خوا ته چی ګوری دا له مینی خالی زړونه، دا بی زړونو جسدونه، اوږدی بمبلی ږیری، د ریا عبادتونه، په وینو سره لاسونه او شلمی خیتی د پخی غلی کندوان، دا بی پته مار شالان، د فساد قهرمانان، زورور په یتیمانو خو د زور دی غلامان، دا د خاوری دلالان او دا بی رحمه لوټماران چی نه یی دین شته نه ایمان او نه بل کوم یو ارمان او بس دیته یی تلوسه ده چرته چی پیسه ده، هغه د ده کعبه ده، د ده ورته سجده ده، دا یی عهد دا یی پیمان دی، دا مغل دی که افغان دی غـنـی ور سره وران دی، ځکه غـنـي د زړونو خـان دی...»

دغه راز د رڼا ګل استاد بله مقاله پر الفت باندې خبرې دي او ازادي او غـلامي د الفت د سترګو او ذهن له ادرسه سپړي. په دې برخه کې بیا هم استاد رڼا ګل په هنري دول د الفت پر فکر او دید باندې خبرې کوي، خو نه د خیرالبیان پر سبک، بلکې کېدای شي د رڼا ګل سبک یې وګڼو، مګر دا ځل یې د خپل مسلک (ښوونه او روزنه او اروا پوهنه) یو تبی ورکړی دی او د معاصرې رواپوهنې مالګه مرچ یې ورباندې دوړولي دي. رڼاګل د الفت د فکر، نظر او مینې مجسمه هم په هنرمندانه ډول له تورو یا کلماتو څخه جوړوي او دا مواد او توري اکثراً د الفت له غوره نثرونو او غوره اشعارو نه په برلاسۍ سره راخلي او داسې یې سره اوبې او څنګ پر څنګ یې ږدي لکه یو ماهر استاد. دغه یې یوه بېلګه ده:

«د ګل پاچا الفت په شعرونو کی د ازادی او غلامی مانا فکر کی خیال په خیال کی فکر نیول معنی ته رنګ رنګ ته معنی ورکول دي:

فـکـرکـی خیال په خیال کی فکر نیول
معنی ته رنګ رنګ ته معنی ورکول

د شـاعـر کـار دی شـاعــری وګـنـه
د زړه پـه سترګو خوب په ویښه لیدل

د زړه په سترګو خوب په ویښه لیدل یا د زړه دهلیزکی مینی ته کوږ جوړول او د سر په سترګو فکر ته لار ورکول، یا پاس په دماغ کی د فکر پوهی روزل د ځوانکی ګل پاچا نه د الفت او وتلی علمی او ادبی شخصیت د جوړیدو لار وه. نو ځکه یی د ټولو شعری او نثری لیکنو رنګ او مانا، جمال او کمال د ګل پاچا په وجود کی د الفت او علمیت، لوړخیال او ژورفکر د یوالی پایله ګڼل کیږی. «الفت» نه یوازی د ګل پاچا د ظاهری هویت بلکی تر هر څه د مخه د ده د زړه سوانده او لوړ انسانی شخصیت ښکارندوی دی. ځکه چی مینه یی د زړه په دهلیزونو کی پاللی، له وینی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

سره ګډه شوی او رګ، رګ ته ننوتلی ده. د ګل پاچا الفت په مینه کی انسان، د هغه حقوق، کرامت، پت او عزت تر هرڅه اوچت ځای لری او ازادي د دی ټولـو بنسټ جوړوي:

پـــت عـــزت د ژونـــدانه ازادي بويه
بيله دې وي ژوند ذليل، خوار و حقيـر

ازادي د تـــــن او غـېرو څه په کارده
چې دې وي فـکــر تــړلی په ځنځيـر

چې ازاد فـکـر لــري پــه جيلخانه کی
دی ازاد، نــه د غــلام غونـدې وزيـر...»

نور بيا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ